# مَنْ سَبَّحَ اللهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَحَمِدَ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَكَبَّرَ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، فَتْلِكَ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ، وَقَالَ: تَمَامَ الْمِائَةِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ غُفِرَتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ». "څوک چې د هر لمانځه په پای کې درې دېرش ځلې سبحان الله، درې دېرش ځلې الحمد لله او درې ديرش ځلې الله اكبر ووايي نو دا نهه نوي شول، او د سلو د پوره کولو لپاره يې: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ" ووايي نو د هغه ګناهونه به وبخښل شي، که څه هم د سمندر د زګ په څېر وي

ابوهريره رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي: «مَنْ سَبَّحَ اللهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَحَمِدَ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَكَبَّرَ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، فَتْلِكَ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ، وَقَالَ: تَمَامَ الْمِائَةِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ غُفِرَتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ». "څوک چې د هر لمانځه په پای کې درې دېرش ځلې سبحان الله، درې دېرش ځلې الحمد لله او درې ديرش ځلې الله اكبر ووايي نو دا نهه نوي شول، او د سلو د پوره کولو لپاره يې: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ" ووايي نو د هغه ګناهونه به وبخښل شي، که څه هم د سمندر د زګ په څېر وي.

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: چا چې له فرض لمانځه وروسته: درې ديرش ځلې "سبحان الله" وويل چې دا له نیمګړتیاوو څخه د الله جل جلاله د پاک بیانول دي. او درې ديرش ځلې يې "الحمد لله" وويل چې دا له محبت او تعظيم سره د کمال په صفتونو د الله تعالی يادول دي. او درې ديرش ځلې "الله أكبر" ويل چې (معنا يې) له هر شي څخه د الله جل جلاله لويي بيانول دي. او سل عدد د دې ذکر په ويلو سره پوره کيږي: «لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك، وله الحمد، وهو على كل شيء قدير» چې معنا يې ده: له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه يو دی شريک نه لري، او هغه پاک ذات لره يوازې بشپړه واکمني ده، هغه له نورو پرته د محبت او تعظيم سره د ثنا او ستاينې وړ دی، او دا چې هغه قادر دی او هيڅ شی يې نه شي عاجز کولای. نو چا چې دا (ذِکر) ووايه ګناهونه يې پاک شول او وبخښل شول، که څه هم د هغه سپين ځګ په څېر ډېر وي چې د سمندر د اوبو په سر د څپو او هيجان پر مهال راپورته کيږي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee